Your text here

# ناول

# دتورخم لار او واده

**لیکوال:سید ادریس عادل**

**کیسه:تسکین اوښکلا**

**صفحی:۱۶**

# دالی

khttps://chat.whatsapp.com/CBNNQba1wxULyPJU7up9

دښکلو کتابونو او ناولونو لوستلو لپاره دواټساپ دی ګروپ کی درسره ځان ایډ کړی...



# پیل

دټولو نه مخکی تاسو ټولو ګرانو لوستونکو ته هغه ډالۍ وړاندی کووم چی پوره ۫څوارلس سوه کاله مخکی ددی امت دخوشحالی لپاره رالیږل شوی وه

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکة

دا چی پوهیږو په ناول کی دلیکوال خبری ډیرې سترې کوونکی وي نو د

همدی له امله زه هم خبری ډیری نه اوږدووم ستاسی نه می هیله داده چی

ناول راسره تر اخره مطالعه کړی پوره باوری یم انشاالله دکوم ناول په

لوستلو چی ستاسو دناول دلوستلو سره علاقه پیدا شوه داناول به هم
هماغسی یو ناول وی ویی لولۍ او خوند ورڅخه واخلئ، په درناوی مننه .

دښکلو کتابونو لوستلو لپاره دی ګروپ کی درسره ځانونه ایډ کړئ

https://chat.whatsapp.com/CBNNQba1wxULyPJU7up9

**لیکوال:سید ادریس عادل**

**(دټولو هغو مشرانو نه نړۍ مننه چی**
**زه یې دی فیلډ ته همایه کړم او**
**خاص**
**خپلو مشرانو ورورنو ته ډالۍ)**

**هریو:**

**سید اسماعیل (سادات)،سیدیونس**
**(سادات)،سید یوسف (سادات)،سید**
**اسحاق (سادات)**

**او خپل ګران پلار جان ته:**

**سید شیرین ( سادات)**

دسهار اذان وشو چرګانو خپله غاړه دسهار په بانګ تازه کړه د ډیری خلکو دکورونو دروازی ترڼلی وی او لمونخ ته دراوتو هیڅ تابیا یی نه لرله لاړم لمونځ می په جماعت کی ادا کړ.

هر کله چی دکور په دروازه داخل شوم،نو دورور می د واده خبره روانه وه،پلار می ویل چی ما سره دومره پیسی نشته،چی ټول کالئ هم وکم!او دولیمی سودا او داټول هر څه برابر کم خیر دا هر څه به وکم خو کم از کم ته خو دی دزوی هاغه خسر او خپل ورور ته ووایه چی دا موټری دی ډیری نه غواړی که چیرته ځای نږدی وو ضرور به مو یی هر فرمایش منلی وی خو اخر دافغانستان او دپاکستان

لاری دي.

خدای مکړه چیرته کومه بده پیخه رامنځته نشي او بله هغه خو زموږ خپل هم دی کنه دا خو باید راسره ومني .

خبری همداسی روانی وی زما هم په سر درد شو لاړم کلاری خپل ځای کی پریوتم ولی چی غټ کارونه راته مخته پراته وو . دورور واده چی دری ورځی وروسته یی ولیمه وه په ورا تګ تر پاکستانه او بیا لاهور ته تګ غتی خبری وی جامی می هم خیاط ته ورکړی وی دوه جوړه وی نن ورځ لس بجی دهغی راخیستل هم وو.

اوپوره یولس بجی حرکت وو!

وخت راورسید جامی می هم راواخیستی پر تن می کړی او فکس یوولس بجی مو پلار هم دحرکت لپاره چمتو شو خو دزنانو نخری خو بیا موږ تاسی او ښتنو ته ډیری ښی معلومی دی پوره یوولس نیمی بجی ټول دتګ لپاره اماده شو.

دموټر مخکی سیټ کی د واده زلمی مطلب سید اسحاق کیناست موټر حرکت وکړ، دتورخم تر هډی پوری خپلو موټرو کی ولاړو . هغی نه وروسته مو پلارټولی کورنۍ لپاره یو کاستر په کرایه ونیو تر څو تر تورخمه مو ورسوی. ها څومره خوند وپه هاغه سکون کی چی دټول سفر مسولیت به مو دپلار سره وو.

موټر خالی خوند له منظرو منارو او له غرواو رغونو اخیسته ولی چی خپله خاوره مو وه او دموټر په تیپ کی دغه سندره چالانه

وه.

چې تور لونګ لالی راوړی زما لپاره .

موټر پداسی سرعت کی له سرکه څخه روان وو چې هری ونی او د خپل وطن هر غر به شاته منډی وهلی، او ډیر ژرژر به له سترګو پناه کیدل ، په لاره کی دبټی کوټ مالتی هری خواته په سړکونو امبار امبار ایښی وی.

بازی ونی د کوټ په ولسوالۍ کی داسی یو بل سره ورغلی وی لکه دوه مین چې دپسرلی په موسم کی دیو اوږده خزان نه وروسته یوځای شوي وي.

لاره مو وهله او هره منظره به موټر کتلو وروسته شاته پریښوده دمنظرونه په ډیر خوند اخیستلو اخر ستړی شوی او ویده شوی وم یو وخت می پلار دڅکلو غټ بوتل اوبه راوړی او چې هر نفر اوده وو په سر یی ورواړولی، داسی خکاریده لکه چې پلار جان په غوصه وو.

شک می سم وو هغه ریشتیا هم په غوصه وو اوداسی یی ویل:

تاسی هلته ددی لپاره بیایم چې خالی خوبونه وکړئ ټول مو خپلو دندو ته متوجه شئ زموږ پلار ټول عمر د مؤسسومشر پاتی شوی و نو د همدی لامله به یی په کور کی هم هر کس ته وخپل مسؤلیت ورسپاره او که چا به بی غوري کوله نو سزا به یی ضرور وه پدی لاره کی زما دنده داوه چې دکورنۍ ټولو وګړو خیال وساتم تر څو دتورخم په ګیټ کی

زموږ دکورنۍ او دخپلوانو سره د کومی غلا یا کومه بده پیښه یا حادثه

رامنځته نشي.

همداسی مو دتورخم خیالونه ذهن ته دریدل چی زموږ دنده به څنګه پای

ته رسي هځی نه چی کومه غلطی راڅخه وشي اوهځی نه دپلار د غوصی ښکارشو.

همدا وو چی تور خم ته ورسیدو ماسره د اوږی یو قوي بیګ وو نوي نوی

دپاسپورټ مراحل شروع شوي وو.

توری چشمی می دلمر لپاره په سترګو کړی وی نوی جامی می هم اچولی

نوی ساعت راته ورور یونس دهندوستان نه راوړی وو، ریشتیا هم چی د

ورور واده ته روان وم.

دتورخم کباب مو وخوړل خدای خبر چی دتور خم په کبابو کی ولی دومره

خوند وو خو خپل هاغه پخوانی کاسټر مو په زړه هډه کی پریښود.

ټول پیاده روان شو خدای خبر چی څنګه واده وو داسی واده می کله هم

پخپل ژوند کی نه وو لیدلی .

حتی تر دی چی دتورخم تر ګیټه پکی ورسیدو زما پاسپورټ هم چک

شو.

هرکله چی داخری جالی دکسانو پاسپورټونه چک شو نو یو طیاره وچته

شوه نه پوهیږم تیاره وه او که بل څه خو دومره پوه سوم چی موږ ټول

یی دنظر نه تیرولو.

ننداره ختمه شوه او دګیټ نه واوړیدو زه وروسته دټولی کورنی او دخپلوانو نه شوم او پلار می مخکی شو خو پدی وخت کی زما خیال یو عجب حسن

ځانته واړاوه .

چی دمور می هم راته خیال شو مور می ودریده او ترما راغله دمور خیال

زما طرف ته وو چی یوه کراچۍ راغله او دمور په پخه وروختله او دوینو سره داره یی وکړه چی زما خیال شو نو وار خطا شوم زر می خپل دسمال راواخیست ومی شکو دری ځایه می کړ او خپلی مور خپه می دری ځایه

وروتړله پر ما هم دوری راتلی سر باندی می یو عجیبه درد غلبه وکړه

سترګی راباندی پټی پټی کیدلی چی پلار می راورسید اود مخی سره

کړه یی چی:ږوند وی ولی دی نه کتل تا یو وخت هم خپل مسؤلیت سم ندی

سرته رسولی پلار می سیده دکراچۍ والا سره په لانجه ووخو ما تر لاس

ونیو او کش می کړ غوږ کی می ورته وویل چی پردی وطن دی زنانه هم ډیر دی هلکان هم هسی لانجه تری جوړیږی دوی سره به بل وخت ګورو

رازه چی کوم هسپتال پیدا کو او مور ورولو زه به له دی سره پاتی شم تاسو راته هلته د موټرو په هډه کی په طمع شۍ.

ریشتیا هم همداسی وشول خو تیره شوه سخته وه دتورخم لار ولی چی موږ پکی د ډول ډول پیخو نه یریدو.

دیو ځل لپاره دمور خپه یی سیده پاسمان کړه او خالی رګ یی لګ سوری

شوی وو هغه د لاری په اوږدو کی رکه روغه شوه، زموږ ټولی کورنی

خپل خپل مسؤلیتونه خه په سم ډول ترسره کړل یوازی زه وم چی پاتی راغلی وم .

زه ددی په طمع وم چی پلار به نوری خبری هم راته وکړي خو پلار

چی مخ راواړوو مننه یی وکړه ویی ویل:چی زویه تانن زه له غټ مصیبت نه خلاص کړم خدای مکړه که چیرته موږ هلته جنګ کړی وی په ګیټ کی وس به زموږ څه حال وای.

ایا دومره په عزت کی به تر دی زایه رارسیدلی وای ما ورته وویل لالا

ته دا خبری پریده دا پښتنه وکه چی ستا زیرک ځوی تسکین ښځګه نن

دومره غټه غلطی وکړه حال دا چی تا په ما دټولو ورونو نه زیات باور
درلود هغی وویل ښنګه ولی څه شوي.

ما هم ورته ښکاره ورختمه کړه چی یوه انجلۍ وه او دحد نه زیاته خکلا

یی لرله زما فکر هغی جلب او دمور فکر زه جلب کړم چی دا پیښه
رامنځته شوه.

پلار وویل: خپل حد کی اوسه تر اوسه پوری لا ستا نه دوه نور هم مشران

شته .

دا مهال موږ د پیښور کارخانوبازار ته ورسیدو کاسټر کی ناست وو چی

یو ځل بیا دخیبر پښتنخوا خکلی منظری شروع شوی موټر کی داوردو

سندره لګیدلی وه.

توجی دیکها تویی جانا صنم.

موسم هم د پسرلی هوا وه لمر ورک شوی وو او یو نیم ځاځکی باران هم

وریدو ددخړو دښتو نه په لرو غرونو نیمچه نیمچه واوره هم پرته وه او
حال دا چی فکس په دری نیمی بجی پیښور کی دلاهور هډی ملی بسونو

هډی ته ورسیدو هلته مو هم دوه غټ غټ ملی بسونه کرایه کړل ویی ویل
چی تاسی استراحت وکړی فکس په پنځه بجی به مو موږ راپاڅوو.

هلته یوازی په انتظار ګاه کی نو هر رقم سهولتونه موجود وو وی ای پی

تشنابونه هر ډول خواړه رقم رقم کوټی استراحت لپاره خو موږ بیلی کوټی

ونیولی تر څو ټول په ارامه زړه ویده شو ټول ویده شو خو یوازی زه، او
پلار می ویخ وو ، پلار می چاسره په موبایل خبری کولی ورته یی دملی

بسونو د هډی ادرس ورکاوه.

یو څه خلک چی زما دپلار ملګري وو، هغوی هم راتلل کم ازکم یوولس

کورنی به وی پلار می هغوی ته ادرس ورکاوه او زه ددنیا په نوو خیالونو کی ډوب وم تر پنځه بجو پوری می هیڅ خوب ونکړ، چی پلار راغبړ کړل ورشه هډی نه بهر څه خلک دي راځي رايی وله:

لاړم چی خلک راولم ټولو ته می خپل خپل سیټونه وروښودل کیناستل زه دموټر نه راښکته شوم پدی وخت کی می هاغه انجلۍ ولیده کومه چی په تورخم کی زما دمور دپښی ښوړیدلو لامل شوی وه.

دا هماغه انجلۍ وه چی پوره یو ساعت یی زما د راحت مخه دخوب په کوټه کی نیولی وه زما رنګ زیړ شو نه پوهیږم ولی خو داسی معلومیده

لکه دقدرت فیصله چی داوی چی دغه انجلی زما شي کنه زه چیرته تورخم چیرته هاغسی بیروبار چیرته او پدی دومره خلکو کی بیا دا جینی زه خیر خو موټر اماده شو.

اوروان شو په دی لاره کی هم ډیری خوندوری منظری وی لکه دماهیپر په شان غرونه او رڼی اوبه چی زموږ دګران وطن نه راتلی دلته هم تر اټک پوری لاره ډیره خوندوره وه خو دننداړو وخت په ختمیدو وو ولی چی شپه راروانه وه دماښام اذان وشو موټر یوی خواته ودرید مونځ مو وکړ.

روان وو په لاره کی د اټک دوه رنګه اوبو دهر چا پام ځانته اړوو ډیر خوندورپول وو داسی معلومیده لکه نوی چی جوړ شوی وی خوندوره لاره وه چی دا وخت می په شیشه کی وکتل نو هاغه ښکلی په اخری سیټ ناسته وه اوماته یی په داسی انداز کی کتل لکه دچا په زړه کی چی څه ډیری پښتنی وی خو دکولو موقع ورته یا په لاس نه ورځی اوکه موقع ور شي هم نو پښتنه نشی کولای.

ما سترګی بلی خوا ته واړولی خو دخپلی چالاکۍ نه په ګټی اخیستنی می

وکولای شول چی نوم یی پیدا کړم اوهغه داسی چی ما خپل پنځه کلن وراره

ته وویل چی لاړ شی او ټولو ښځو دنومونو پښتنه وکړی تر څو زموږ په ډله کی خو به نوی کسان نوی راختلی دا چی دا بهانه معقوله هم نه وه خو ښځو ورسره منلی وه.

پدی ورځ دومره خوشحاله وم لکه دژوند یوه بله دوره چی می پیل کړي وي ،دهغی ښکلی انجلۍ نوم ښکلا وو واه څنګه چی یی نوم

ښکلا وه سترګی خو یی دهغی نه هم ښکلی وی کنه موږ په وروسته موټر کی ناست وو او پلاراو بله ډله مخکی روان وو چی د همدی خیالونو په سمندر کی ډوب وم چی دشپی په دولس بجی جهلم ته ورسیدوو.

فکس دشپی په دوه بجی مو ورا روانه کړه واده خه په ډنګ ډونګ تیر شو

چی په سبا یی زه مکتب ته لاړم نو استاذانو هم ګیلی کولی چی ولی دی موږ نه یو غوښتی ما به څه ورته ویلی چی پدی وخت کی یو زنګ راغی

وچت می کړ.

هغی خوانه اواز راغی چی نن په یولس بجی درته زه په کابل هډه کی په طمع یم اواز د ښځی وو، موبایل سیده بند شو زه مکتب نه په دولس بجی

رخصت کیدم سیده لاړم اواجازه می واخیسته چی نن په لس نیمی بجی زه

له مکتب نه وځم لګ څه کار می دی اجازه یی راکړه لاړم کابل هډی شاوخوا هیڅوک هم نه خکاریدل لری په پول باندی یوه انجلۍ ولاړه وه.

سلام می واچاوه راته یی کړه ته مادلته ددی لپاره راغوښتی یی چی

ولی په تورخم کی ماته په لیدلو بی سده شوی ایا انجلی دی مخکی چیرته

نه وه لیدلی زه ورنه سیده روان شوم دلاس نه یی ونیولم ما ته یی وویل چی ته دومره توان نلری چی ویی وایی ما یی په جواب کی وویل چی ته دومر

پوهیږی نو ته یی ووایه کنه.

اواز يی ژړغونی شو او ويی ويل: زه درسره مينه لرم پدی خاطر چی ته هم راسره مينه لری.

زياته يی کړه چی دا خبره ماته ستا وراره لقمان وکړه زما په سترګو کی هم د خوشحالی اوښکی راغلی .

ورځی تيريدلی موږ غوښتل چی خپلی کورنی ته ووايو خو نه کيدله يوه ورځ خبر شوم چی ښکلا دوی لاړل امريکی ته او په لومړنی طياره کی رسيدلی ما هم دخپلی کورنی نه اجازه واخيسته او پدی تکل له کوره ووتم چی په هر قيمت وی نن به دکابل ميدان هوايی کی طياری ته خيژم اوځان به تر ښکلا رسوم زه لاړم دکابل ميدان

هوايی ته

ډيرو خلکو بيلونه راوړی وو.

اکثر خلک تش راغلی وو لکه زما

زه هم لاړم پوره ديوی ورځی انتظار نه وروسته ميدان ته ننوتم

ميدان کی يی اسناد غوښتل ډير فکر می وجنګوو.

څه دحل لاره می پيدا نکړه دا وخت يوه ښځه او وړوکی هلک روان و

چی ماته يی خيال شو راته يی ويل که چيرته غواړی لاړ شی نو ماپسی رازه

ما يی هم خبره ومنله ورسره روان شوم.

دی دامريکيانو سره څه په انګلش کی وويل

انګليسی يی تيزه وه پوه پری نسوم

خو دومره پوه سوم چی خدای زما لپاره راليږلی وه .

تر څو خپل مقصد ته ورسيږم .

زه لاړم په لاره کی کیمپونو کی دښکلا سره مخ شوم.

پلار ته یی ورغلم ما خپل پلار ته زنګ ووهلو هغه می اول نه په

هر څه پوه کړی وو

هغی مخامخ ورسره خبری شرو کړی.

سلام کلام نه وروسته یی دریشتی غوښتنه وکړه

دښکلا پلار وویل: ماته خو منظوره ده خو زه به یو ځل ضرور

ده خپلی لور سره مشوره کووم هغوی ددی ورځی

په سبا زما پلار ته زنګ وهلی وو او ها یی ورته کړی وو

چی سهار وختی ټایم کی ماته پلار زنګ راووهلو ویی ویل چی مبارک

شه په فیسبوک کی هم پوستونه شوی وو.

زموږ واده هم په کمپ کی ډیرو خلکو به منځ کی خه

په ډنګ ډونګ وشو.

وس لپاره تسکین او ښکلا په امریکا کی دی تسکین ډیر غټ کاروبار لری
وس یی خپلی ټولی کورنۍ ته هم کیس اچولی.

تسکین وس په امریکا کی د موبایل جوړولو او موټر جوړولو او پدی
کمپنیانو ګرځي او غواړي چی په راتلونکی کی

دافغانستان لپاره داسی یوه غټه لاسته

راوړنه ولري

چی په ژوند کی هم چا لاسته نه وي راوړی

پای ...

واسلام ...

دنورو هرډول ښکلو ناولونو لپاره دواټساپ دا ګروپ درسره جوین کړۍ.

سادات ناول

https://chat.whatsapp.com/CBNNQba1wxULyPJU7up9

//تسکین//



یادونه :

دبلی برخی لپاره زموږ دفیسبوک گروپ

ناولونه او کتابونه کی غوښتنه وکړه

دپوسټونو گروپ دی

هر کتاب چی لیکو انشالله

هلته یی وچتوو

ځانونه پکی اډ کړی

مننه...